کابل ناتهـ،   شماره۶ ۷۹ سال چهـــــارم   اسد/سنبله   ۱۳۸۷خورشیدی   ۲۰۰۸ عیسوی

# د تمی کاروان

## باغبان کوچه



لیکوال: شهید محمد موسی شفیق

دکوم کوز ددیوالونو دننه چه داقصه شروع کیږی هغه دښاریه هغه برخه کی پروت دی چه دعمر په لحاظ هغومره زوړه نه ده څومره چه ددې نه سهیل، لمرخاته اولمر پریواته خواوته برخی زړې دی. مګر دقطب خواته نوو آباد یوداسې ګرانه کړیده چه اوس دې برخې ته څـوك نـوې ووایی دآبادی. پـه لحاظ ددې برخې اودښار دنورو زړو برخو په مینځ کی چندان فرق نشته، په هره کوڅه چه برابرشې دمردارو بویونو څوزې به لـګه دکچرې. سپاهی دریسې شی اولکه داړدغو مېسې غوندې به دې وخفلوی اودغشی په شان به دی دکوڅې دهغې بلې څوانه وباسی. خړخړ ددړونه ډك دیوالونه چه ځای په ځای کنډوکپر شوی دی سړی ته داسی بریښوی چه ته به وایی هیڅوك ددیوالونوشاته نشته. خوما پخپلو سترګو لیدلی چه ددروازې نه اخواته ښکلی ښکلی کوټې دی، سرې سرې قالینی پکښی غوړیدلی او سرې سپینی پیغلی اونیمزالی پکښی اوسی چه په دې هدیره غوندې کوڅه کی دژوند تقریباً یوازینی نښه ګڼل کیږی.

دیوې وړې کوټې. په نمرخاته کونج کښی یواوږد اوپلن میز پروت دی چه تقریباً دکوټی دریمه برخه یی نیولی ده: نمر پریواته اوقطبی خواوته یې ترددیواله پورې یوخودانی سرې چوکۍ پرتی دی چه دخرمنـی پوښ اودنرولرګو بازوګان لری. دچوکۍ د ناستې ځای بوښ راوتلی اود اوسپنې دسیخونو ښښی دخرمنی لاندې اوچته ښکـاره کیږی. د میزپـه سرباندې دبانجانی وړیو یوه شمله تړته غوړیدلی اودهغې دپاسه یودیوات یوقلم، یوجاذب، یوتلفون اویوه جنتری پرته ده. دمیز شاته په یوه پراخه بازوداره چوکۍ باندې یوزوړ سړی ناست دی چه یوه عمودی شان خندایی په ببرو شونډو لکه دکاڼی دکرښې غوندې ښکاره ده؛ دسړی په سر یوه توره پکړی. ده چه دیوې تورې بخملی خولی، نه ښویه تاوه شوې اودتندی دمنځ په برابري دګلاب دیو دوه ورځنی غوړیدلی ګل هومره شمله پریښې ده؛ دزاړه سړی په غاړه باندې یوسپین کمیس دی چه خیرنې ترکه یی دګونځی ګونځې ورمیږ په غاړه دورایه ښکاره کیږی. دکمیس دپاسه یی یوتوراوږد کوټ اغوستی چه داوړی ژمی بدلون قطعاً په رسمیت نه پیژنی؛ دکورتـی نه کوز یوتور پتلون ځان په یوجوړ داسی تورو بوټانو ورغورځولی چه غیر له همدغسی ورځونه لکه داموتریچه قصه کوی په بله ورځ هیڅ دمه نه شی کولی. ددې کالو خاوند یوه توره ږیره لری چه دهرویښته زړه یـی داسی

سپین دی لکه دخاوند شاته دیوال یی. دزاړه سړی دخولی هیئت به ستا په زړه کي ډیرامیدونه زاوینبی کړی اوډیره خوښي به درته باسي مګر هغه دسپیني پګړی. اوبانجانی کوټ خاوند چه ده ته مخامخ ناست دی هماغومره په تیارسي ښکاره کیږي لکه دچنګیزخان دمعروفي خیمی په وره کي دهغه صحرایي پیره‌دار. په بانجانی کوټ کي دننه سړی یوه بونډی. شانی ډیره لړی چه یوخوډکویي بی‌وخته دخاوند د پګړی. درنګ سره سیالی کړیده. مخ یې دغټوداڼو دماشوم توب دوخت دکومي سختي حملي ناخوښي خاطرې دپولیسی سابقی غونډې‌چه دسړی په تذکره کي ثبتیږي امانتی ساتلي دي . یوسپین پرتوګ یي په غاړه او یوه جوړه نیمزالي کلوشي یي په پښوودي. پخپله ناسته‌کي ډیر ډیر د پخواني مصر دعریضه نویسانو مجسموته پاتي کیږي. دواړه ژامې یې سره جوخني او ګرد ګرد لاسونه په زنګنونو دمیز ترشا سړی‌ته داسي په برید دي لکه چه هغه ګونډې‌هم دده سره ښبرې کوی خودهغه سترګي په یوګردمسین ساعت نښتي دي‌چه دمیز په سرده ته مخامخ‌په درې‌پښو ولاړدی. دساعت لنډی ډبغرکی بازودیولسو دنښي په غټ تورنګي ورننوتي اواوږ دبازویي ددولسو دنښي نه یوخوګوره لاړې دی .

دکوټې نه دباندې ورسي. ته نژدې دیوې پخي چوترې په‌سریوسپین ږیری سړی دکوټي برېلو دیوال‌ته ډډه لګولی اونیم ویده غونډې ښکاره کیږي. دخان نه یې یو اوږد، زیړ، وړین کوشو تاوکړی اوملایي په‌یوتور ملاوستنی ټړلی‌چه یوه ښایسته شان دزیړ وګلداره کړی. وربانډې‌لګیدلی ده. داکمربند دکوشو خاوند پخوا دعسکری شپانو په‌کوم لیلام کی‌رانیولی اوډیر وربانډې ګران دی، دالیلام دپخوانی باچاپه امرشوی اوچه سپین ږیری‌ته به چاوویل:«باباکه پاچا دې ونیسي‌چه ولي‌دې سرکاری‌ملاوستنی ترملاکړی نوخه به کوی؟» ده به اول دوښکی یوداسي حرکت وکړچه یعني زه خوبوه شوې یم‌چه تورکی راسره کوې اوبیا به یې وویل: «زه به ورته ووایم‌چه قربان دې شم خوتا پخپله لیلام کړی‌وه بیاله دې‌چه فکر وکړی چه اوس نه هغه باچاشته چه پوښتنه تری وکړی اونه هغه لیلام ګری چه شاهدی ووایي !

ناڅاپه دتیلفون زنګ دکوټي دمدیرې غونډې چوپتیا ګډه وډه کړه دسپیني پګړی. لاندې مخلوق یووارخطا جټکه وخوړه اودکوټي‌ته دباندې

سبین زیری هم دنیم خوبه نه راویښ شو .

په دې کوټه کښې چه تیلفون ډیرلږ په کارېږي اوپه ورځ کې څبرته یووار– نیم دبهر نه زنګ راځي، دزنګ انګازو دلیرې اوتږدې شاوخوا کوټو خلك هم غوږ په آواز کړل، دتوری بګړی نه لاندې، سر کې ژبه وخوزیده :

بلی بلی صاحب ...

. . . .

. . . .

امروز ؟

. . . .

ده توب ؟

. . . .

بچشم ...

په چوتره باندې ناست سبین ږیری دتیلفون دزنګ داوریدونه وروسته خپل ښی غوږ دکوخونه راویستلی‌ؤ، په نورو خبرو خو یا پوه نه شو اوپایې دتبصرې وړنه ګڼلی مګرچه د تور پټکي خاوند وویل : «ده توپ؟» دی اوچته ودرید، کوخو له یې یونری شان تاو ورکړ اودځان سره غلی ویسیدچه ایله په مقررو پرښتواوریدلی وی: «ده‌غضب خداشوه خدام باز که رده توپ می‌ته؟» د سبین ږیری د آخر عمر ارمان داوچه یوه ورځ دې کوټی‌ته راننوځی اودمیزشاته په تورکوټ‌کی ښښتی سړی ونه ګوری اوواوری‌چه هغه دښی خپلی سراچي ته دختوبه وخت‌کی‌دزینې نه رالویدلی اونورده ته بدې بدې نه شی کتلی څکه چه سترګی‌یې دابد دپاره پټی شوی دی .

• • •

دسپینی بګړی خاوند دخپلی پیشی په مخصوصه حاسه باندې‌پوه شوچه «امروز» او«ده توپ» څه معنی لرله. نوځکه یې خپلی غونډې‌غونډې ګوتی په یوعصبانی شانتی حرکت په زنګنو ښځی کړې او د ښکاریانو په اصطلاح بوځ کیناست اوچه دمیزترشا سړی خبره شروع قدرې کړه نودی وربانډې تربیخه پورې رسیدلی‌ؤ. دکوټی نه په وتوکی شو، دواړه شونډې‌یې داسی تښتیدلی وې‌چه ده هوخومره کوشش کاوه چه سره

ښوخاۍ یې کړی هغه لکه دایلم اودوه سری ګوندونه ښودېل نه لږې وتلې اتفاقاً دده شونډې‌هم ږیږې‌ږیږې‌وې. ډیرچست چست‌قدمونه‌یې واخیستل دواړه لاسونه یې دلامبوزن غوندې بیدو داسی په‌خوزیدو راغلی وو لکه هغه سیخونه چه دګړندی موټر دښیښی واورې پاکوی. دکوټی نه چه ووت اودچوترې نه‌هم چه کوزشونویی مخه دهغو کوټو خواته شوه دکومو چه زیږی ورسی ټیټی وی اوښایسته ښه زورور زوږ ترې راووت . به دې

کوټوکښی خلکو سبقونه ویل اوډیر پاخه استاذان پکی ناست وو. زمونږ دآشناچه متاسفانه وروسته له دې یې مونږ دسپینی پکړی‌به‌خاوند نه شو بیلولی څکه چه دنورو خلکوهم سپین پګړی شته‌ــ په زړه‌کی ډیرې خیرې لکه دبریښنا دحرکت غوندې تیــرې شوې، دهغه بی‌ادبه شاګــرد خیره‌یی سترګوته ودریده چه هغه بله ورځ‌یی په ده پورې ټوکه کړی وه اودی‌یی دنورو په مخ‌کی پیکه کړی‌ؤ، هغه بل‌چه دده مضمون ورته‌چندانی مهم نه ښکاره کیږی او هغه بل‌چه دده دعمومی تعلیم دکموالی‌په وجه‌حتی

دده دصنعت په قیمت هم نه قایلیږی. اوهغه بل‌چه دده دکالا دزوی پوره احترام نه کوی اوهغه بل... داټولی خیرې‌چه لــکه دسینما دیوې چسټی ننداري غوټدې دده‌په حافظه‌کی وخوزیدې‌نویی‌دځان‌سره ډیر شکرویست چه په دغه ورځ اودغه وخت دده ساعت خالی وو اودی په هغه کوټنی‌کې حاضرؤ چیرته چه د «امروزه او «ده‌توپ» تاداو ایښودل کیده. اوس‌نودی خپل انتقام اخیستی شی، اوس به نوددې ټولو خیرو خاوندانوته خپــل زوروښیی. دخپل جیب نه یې بی‌نظیر قلم پــه رپیدلوګــوتو را وویست

کولمی‌یی ورتاوې اوژبه یې رابهرکړه. اصیل قلــم هیڅ قی نــه‌وکــړی نوځکه یې ګوتی دجیب‌نه تشی راوویستی اودسمال پکی نه‌و مګرهرڅومره یی‌چه ښی اوچپ اوډنه اودباندی جیبونه ولټول سپین کاغــذیی پکښی ونه موند. اول خویی فکر وکړچه دکوم شاګردنه به یې واخلی او دمزله نه‌ونه دریډ مګر داخیال ورغی‌چه ممکنه‌ده سپین‌کاغذ به ددغسی‌یوچاسره پیداشی چه دهغه په خیره ده دوخته(۹) رانښکلی اوکه‌دی ترې‌کاغذواخلی بیابه ښه نه‌وی چه دهغه نوم ونه لیکی‌نوځکه په توندی راستون‌شواوتکل یی وکړوچه دتیلفون دکوټنی خواکی‌به دهغه بلی‌کوټنی‌نه چه دفتریان‌پکی

ناسـت دی کاغذ راواخلي په‌دې خويي يقين‌ؤچه هغوی به‌کاغذ ورکړی‌ځکه چه داکار خودده خپل کارنه دی مګرچه دکوټې وره‌ته ورنژدې‌شو ناڅاپه‌يې ژنګنوته ورپيدل اوزړبيرته په ډيراحتياط راوګرزيد. ددويمې کوټې‌ورهغه ځاې‌ته مخامخ‌و چيرته چه تيلفون اوهغه دبانجاني ميز پوښ والاميز ايښی واوچيرته چه هغه دتورې پګړۍ خاوند ناست و، که هغه دی بيااهم‌ليدلی وی‌چه لاتراوسه يې کارنه دی خلاص کړی ورته به په قارشوی لاڅه‌کوې چه ممکنه ده بل څوك يې دې‌کارته مقرر کړی وی. دی‌چه بيرتـه راستون شونوپه ربښتياسره‌يې دشکرنه زړه ډك‌ؤچه دغه بلانازله نه شوه اوددهغه ټولی نقشی‌يې ګډې وډې نه کړې. په لاره دې‌ته هـم‌اوزګـارؤ چه دشپې دپوړۍ نه مې يوه خاموشه شان استغناء خپل ځان‌ته اعلان کړی. بيدو لکه هغه دم چه سړی يې دبلياتو ددفعې لپاره بخپل ګريوانه‌کې چف کوی نن شپه‌که نوبت ښه دی اوکه خراب څه فرق نه کوی، بيګاته لاڅه سبا اوبلی شپی له هم دچاپروانه راځی. دايې تقريباً داستغناء داعلان متن ؤ يوه بله فقره‌يې هم پرې ورزياته کړه: دادوه شپې خوبه مې‌زړه دچـړې دراتلو دوخت په نژدې کيدو رازونه اودرزانه کوی. اوس نودې ورو ورو هماغه کوټې‌ته نژدې شو چيرته‌چه مشران شاګردان دخپلو استاذانوسره راټول ناست وو. دی‌چه په ډيوړۍ ورننوت دچپ لاس خواته دروازه ورته نژدې‌وه نوپی بيرته کړه اوپښه‌يې ورنه واړوله، په کوټه‌کې دننه ديارلس څوارلس کسه په داسې يوهيئت سره ناست وولکه ته به وايې چاورتـه ديومربع په کرښوچوته اچولی اودوی‌يې ورباندې کينولی دی. دروازې ته مخامخ‌چه کوم ديوالؤ دهغې خواته يوښه سوقه سړی ناست‌ؤچه داوږدې ږيرې سپين‌ږی په‌توره زيات وو، په‌سريې يوه تکـه سپينه پګړۍ. ديوې سپينې خولۍ نه ول ول تاوه تـپل شوی‌وه، دخولۍ پـه اوږدو او سور باندې يې دتيلی لاړې څخليدلـی وې ، دپـګړۍ او خولۍ د ډير سپينوالی نه اوچته معلوميده چه صرف همدانن سحر دواړه ديخدان تـه راويستل شوې دی . په ګرد چاپيره ناست قطارکی يو څو نورو پـګړيوهم داستاد دپګړۍ سره سيالی کوله. معلوميدله چه زيرکو شاګردانو ورځی‌شمارلی اود «امروزه په مخصوص اهميت باندې خبر وو .

په بانجاني کوټه‌کی نغښتی غونډه منډه بنيادم چه په درشايی‌رانبکاره شو داستاذ په وښکوکې دهغې رنځور تبسم اثر وليدل شو چه ده‌به ډيره

خواري، دشوتنو دديوالونو دننه ايسارکړي، هغه شاګردان چه جامې يې مخصوصاً پاکې اوپکړې يې غټې اوپښې سپينې وې هغوی هم پوه شول دبانجانی کوټ خاوند ديوې غټې سپينې پګړۍ دخاوند نه پوه پاته‌سپين کاغذ وغوښت اوهغه په ريبدلی لاس ورکړ. دکوټ خاوند خپل کولمه‌دار قلم‌چه ډيره ښه نوکه‌يې وه دکاغذ په مخ کيښود اوپخواله دې چه دهمدغه کاغذ ورکوونکي دنامه په ليکلو شروع وکړي‌په يورپيدلی اوکلپېدونکي آوازيې اعلان وکړ: دنن دختم ورځ‌ده، په دولسو بجوبه استاذان دشپيتو کسوسره بې‌واقعةالهی‌ددې ځای نه روانيږي.هم دايی رويل‌ان‌شاء الله‌يې دبطلان له ويرې ونه ويله اوديوعدد پسې يې دکاغذ دورکوونکي نوم وليکه . بيايې درجه په درجه دپګړۍ او ږيرې دحجم او نظافت په ترتيب نومونه پله پسې وليکل. يوځوکسه شاګردان چه پټکي يې چندان سپين نه‌وو دخان سره پيکه غوندې‌هم شول‌چه ولی يې دغسی لويې ورځې‌ته‌نه‌وو پام شوی. پيکه لاځه چه ترځه هم ځکه چه دکال دمايدې نه دمحروميت په شرم اوعذاب دواړو اخته شول. اوس به ترې په هرځای کښې هغه نور ملګرې مخکښې کيږي په دې کوټه‌کې دبانجانی کوټ خاوند تورخه تصرف نه شو کولی چه دانتقام وينه يې سړه شي، مګر داچه نومونه پړو مبسی او وروستي وليکي .

دوه درې نورې کوټې‌هم دبانجانی کوټ خاوند دغسی ولټولی اوبه آخره‌کې هغې پخوانۍ کوټې‌ته نژدې يوې لويې کوټې‌ته راغی. په دې کوټه‌کې درويشت شاګردان اويوغلی شانتی استاذ ناست وو. چه خپل کاغذته يې وکتل شماريو پنځوس‌ته رسيدلی وو، دلته نوردبانجانی کوټ خاوند خپل صلاحيت وليدچه شوکې‌ته ختلی‌ؤ، اوس نودې کولی‌شې چه دنن غرمې دپاره دچاپه خيټه پښه کيږدې‌کولمي‌يې وکړنجوی اودچا دمودو مودو دچای اوړودې زيلی خيټه دپولاو اوحلوا په ځنځيدلو غوړو ځړوبه کړې، ټولی سترګی همده‌ته اوښتی وې اوپه ټولوکښې تضرع اوزاری وه دبانجانی کوټ خاوند په دمه دمه ۵۲،۵۳،۵۴،۵۵ ليکل، دچانه‌يې انتقام اخيست په چايی احسان اچاوه، دچايی دخان‌نه شردفع‌کاوه، دچايی دښو بدله ورااداء کوله اوبه عين زمان کښې‌يې دهغه تورپټکي دخاوند دذوق او طبيعت خيال‌هم‌ټينګ ساته. شمارچه شپيتوته‌بيځې نژدې‌شو ددهسترګی اتفاقاً په يوغونج غوندې سړی ولګيدې‌چه دهغه سترګی هم‌به همده باندې

ښځې وي. دبانجانی کوټ خاوند ونه شو کولی‌چه سترګې‌پل خواوارړی اودغونج سړی نه تیرشي، بس‌په سترګوکښې مات شو اودهغه نوم‌ته یې وبلامرجحه ترجیح، ورکړه اود ۶۰ په خواکښې‌یې په خپل ښکـــلي خط او کولمه دار قلم ولیکه .

اوس نودغونج سړی لږ‌ودیره پیژندنه هم په‌کاره ده. غونج سړی دوه‌کاله دخپلو ملګرو سره همدغلته تیرکړی اوکه دهغوی نه پوښتنه‌وکړی نوهیخوک‌به یې بدیا ښه اوصاف ذکرنه کړی شي. ددې معنی دهغه محیط اوزمونږ دعمومي محیط په اصطلاح‌داده چه دی نوښه سړی‌دی بې‌بدوسړی دی، دچاپه ښه‌وبدو کارنه لري. په دغه بختوره ورځ دده هــیئت دغسی‌ؤ یوسپینه برابره پکړی‌یې په سروه، خولی‌یې دداسی شنه بخمل ته‌ګنډل شوې‌وه‌چه تورته‌یې ښان نژدې کاوه، زیره‌یې توره اودقبضې نه ښه‌زیاته وه، دمخ‌سره تښتي خواوې‌یې چندان برابرې نه وې خودزنـــې نه ښکتــه برخه‌یې دیوسرچپه مخروط شکل غوره کـــړی‌ؤ، سپین اوږ دکمیس‌یــې په غاړه‌ؤچه دزنګنونونه یې دوه درې لوېشتې تیرؤ، دګریوان په حد کښې هماغومره ساده‌ؤ لکه خومره چه دلستونو په برخه‌کښې‌ؤ، چپه ګردن یې نه درلود مــګر دورمیږ خیرنو خولو ور باندې یو ګرد چاپیره پــټ تــیر کړی‌ؤ، یولیلامی واسکټ‌یې په‌غاړه‌ؤچه دخلورمی تڼــی دسوری‌نــه یــې یودسپینو زروځنځیر شروع شوی اودجب‌لاس خواته دبرنی‌جیب‌خولې‌ته ورننوتی‌ؤ، په دغه برنی اودده نه په لاندې جیب دواړوکښې دوه ګردګرد غونډاری ښکاره کیدل اول خوبه موپیژندلی وی‌چه دجیب‌ګړی‌وه اودویم به زه درته ووایم‌چه دخولی دنسوارو یوداسی دبلی‌ؤچه آئینه‌یی‌هم لرله. په ښی خواته جیب‌کی‌یې یوسوتړی دسمال‌ښکارکیده، بیخکی‌یې ښکتــه خوړندې‌وې اوخواته‌یې یواوږ دوچ کلك سپین بخن شانتی مسواك ولاړؤ دساعت دځنځیر‌ښکلایو تورنری‌قلم زیاتوله چه سپین پڼ‌یې‌دجیب‌په‌شونډه کلکه خوله لګولی‌وه، دواسکټ نه ښکته یوسپین ارت اوږد پرتوګ‌دغونج سړی دپښو په غاړه‌ؤچه ډیرې ګونځې اوبه پیخویې ډیــرې بخې لــرلی پښې یې‌څکه لوځی وې‌چه ددروازې‌به خوله‌کی دهغو رنګا رنګو بــوټانــو پنو، څپیلو اوکلوشو په منځ‌کی دده دبوټ دوزي په فابریکه‌کی جوړشوی بوټان‌هم پراته‌ؤ، ددې کالو د پاسه زمونږ غونج ملګـری یوه توره اوږده

چیرته غوسټې وه چه ډیره زیږه او بیږه توته یې وه او فقط غاړې ته نژدې یې یوه غټه تنۍ لرله او نوره ایله وه. دده په مخکښې دلرګي په یوه زیږه تخته یو کونځي کونځي دسمال غوړیدلی او دباسه وربانده یې دري او ږده او یلن کتابونه پراته وو چه سوروري پاڼې یې دشین آسمان غوندې دوړو ورو تکو او تورو پــه ستوزو ډکې ښکې وې .

داغونج سړی دښار دیوخاص مالت امام دی، جومات یې پراخه دی ډیر میلمانه پکښې ځائیږي اومقتدیان یې ډیر په دې بسې سرنه وړې چه امام یې په جومات کښې څه کوي؟ په واقع کښې هغوی قطعاً دده په فکر کښې هم نه دی او ډیر بهٔ یې لا روزیه‌وهم نه پیژني. نو کویادامام سرخپلو وطنداراتو ته لوړدی، خو ځکه یې میلمنو ته څه نه شی ویلی. مګر ددې سرلوړی بیه امام صاحب ډیره قیمته اداء کوي ترڅو چه کــومه خاصه موقع پیښه نــه شي ترهغې پورې ده ته څوک نه دورځي او نه دشپې پوښتنه راڅیږي. دده په عصرکې مقتدیانو کښې هغه زوړ تقلیدچه باید دامام دپاره په نوبت ډوډۍ ورولیږل شي مړشوی دی نو ترڅو چه څوک مړ نه شي یاڅوک په خوب کې وڼه بیریږي یادچا خلوینښتی یاتلین نه وي اویاخو دامامانو شپې اویاآخره چــارشنبه نه وي دده کوټنۍ په جومات کې دغوري اوقاب مخ نه شي کتلی. په دغسې شپو کښې یې هم دهغه کورنه امید کیږي چیرته چه کومه پخه پښځه ناسته وي او یه پخوانو خبرو باندې اصرار دهغې خیل قیمت زیاتوي. کویازمونږ غونج امام چه دیومعتبر مالت امام دی اوجومات یې دډیرو میلمنو دپاره ځای لري اوسړی لوړ دی په واقع کښې په چای اوډوډۍ خپلی شپې سباکوي اوصرف خوشکه کلانکاري ور رسیږي. په دې بختوره ورځ دده برابرنهه جومې شوي چه هیڅ کومه ولجه یې نه ده کړې اوددیرې خوشکۍ نه بــه مرخبره نښتلی اودمرچاسره جنګ کوي. کله چه دکوم سماوار یاهوټل په جنګ کښې تیرشي دچاینکي بوی یې نژدې ده چه په مخکه راوغورزوي، کله چه دده دیولګې ملګري دخپلو نوبتونو، داوومواوخلوینښتیو کیسې وکړي دده زړه څه چه خوله یې هم اوبه اوبه کیږي، دډیــرې مودې نــه دی ددې بختورې ورځې په تمهٔ مګر ډیره سودایی ددې سره وه چه خدای خبردی که ده ته ور ورسیږي دده نه مخکښې ډیرې ډیرې اوږدې چپنې، غټې او سپینې پګړۍ شته مګر دځان سره یې داعهده کړې ؤ چه که چیرې هغــه ضعیف احتمال خدای رښتیا کړو دی به هم دمیاشتو قصوروباسي اوځان بــه دخپل مالت دمړي دانتظارنه یودوه دزې جومې بیغمه کړي .

توپ ډزو کړ، شاګردان او استادان د کوټو نه را ووتل. هغه بختور شپیته کسان په غولی کښې سره راټول شول او پاتې کسان دارمانجنو زړونو سره د دروازې نه ووتل، د دولسو نه پنځلس تیرېدې چه دا دتمې کاروان هغه د تورې پګړۍ دخاوند په مشرتوب دامید دسرمنزل په لورې روان شو.

په یوه لویه کوټه کې اوږده اوږده توشکونه خواره او قالینې وربانديې دپاسه غوړیدلی دي. استادان او شاګردان دسوداګر داول ناظر په لارښوونه هلته پنځه شول او فورأیې سیپارې راواخیستې او په ډیر خیل او ایمانداری ئې وربانديې پیل وکړ. هرچا به دسترګو لاندې یو نظر کوټې ته اچاوه، یو نظر به یې دسوداګر ناظر ته کاوه او یوه دغلاکانه به یې دهغو مخامخو او رسیو خواته هم لیږل دکومو دپردو د چاودنه به چه د سوداګر د حرمسرای اوسیدونکو دختم ګرو پټه ننداره کوله. لږ وروسته یومیانه قدی شان سړی راغی چه بوټونه ئې زیره یې په زنې پوزې نښتې، موزې او پتلون یې په پښو خیر نه نکټایی یې په غاړه او شنه لونګۍ یې په سر وه. هغه دژبې لاندې څه وظیفه غوندې زمزمه کوله. راغی او دکوټې په کونج کښې کیناست او سیپاره یې راواخیسته. ختم ګرې ټول یوه شول چه دی خوک دی. دده نه دده دناظر نه، دکوټې نه او دهرڅه نه په دغه کورکې داستادانو او شاګردانو پوزې ته یو مست بوی او ددوی مغزو ته یوغوړ خیال راته .

شاګردانو او استاذانو درسمیاتو دختمیدو انتظار په ډیره بې صبرۍ ویستلو، هرچا به خپل ګوانډۍ ټومبلو چه سیپاره زر «خلاصه» کړی چا به چه سیپاره دوېال دوجهی نه دمصلحت په بناء نه ټپوله نو اول خو به ورته نصیحت وشو چه چاته حرج پیښ نه کړی او چه هغه به لاهم لګیاؤ نو چا به ورته مسئله وښوده چه څه بیایې پخپل جومات کې خلاصه کړه .

شاګردانو یواو بل ته اشارې کولې او سترګکونه یې وهل، کله چه دماسپښین نسیم سپیږمو ته ددیګونو پیغام ووایه بې اختیاره هر چاخپله سیپاره ټپه کړه او دعاګانې شروع شوې، ددعانه وروسته دسترخوانونه وغوړیدل او هرقسم خوراکونه وربانـدې کښیښودل شو، شاګردانـو او استاذانو ته اجازه وشوه چه ورته راتاوشي، یوغرشوچه ددستر خوانونو شاوخوا وې ډکې شوې، دهرچا بس هم خپل ځان یادؤ، زمونږ غونج ملګرې چه ځان دمطلب په غوږ پراوکښې ولیدنو یې دخپل جومات حالت رایادشو او هرڅه یې چه ګوتو ته ورتلل هغه یې هغومره وخوړه چه تر څو تالی او کنډولی تش شول او په ده باندې هم خپل ځان درون دشو او دیوې مزه دارې

ستومانتیا خولې برې راماتې شوې. دهغه خای نه چه شاګردان اواستاذان راووتل په جیبونوکښې‌یې پنځه پنځه روپۍ هم زیاتې شوې وې، ځینو شاګردانو وربانديږ ولایتي اوبه وڅښلې مګر هوښیارو اوپخو شاګردانو هغه هم کټه‌کړې اومخ په خپلو ځایونو روان شول. زمونږ دغونیح ملګرې ساه ډیره خپه‌وه، ده ډیرزرژر اوډیره زیاته ډوډۍ خوړلې‌وه، خیټه‌وربانديږ ساعت په ساعت درنیدله، جومات‌ته چه ورسید په خوارۍ‌یې ځان کټ‌ته ورساوه، حال‌یې ساعت په ساعت خرابیده مګردایې په خیال کښې هم نه تیریده چه ګوندې طبیب‌ته به‌یې حاجت شي، آخریې یووچ لیمو چه په تاخچه‌کښې پروت‌ؤ راواخیست اوداوبـو سره‌یې وڅښه . مـګر هیڅ فایده یې‌ونکړه، چه شپه راتږدې کیده دده حالت نورهم خرابیده، اوس‌یې په‌کولموکښې ډیرشدید دردؤ اوسایې ډیره خپه‌وه، دډاکتر فکرهم ورغی مګر پیسې به‌یې دکومه شي؟ دهغه زاړه کتاب‌په قت‌کښې چه کوم نوټونه پراته دي‌هغه دده هیرنه دي مګر هغه نوځنګه کنډوکړي،هغه خوده‌په ډیره خوارۍ راغونډکړي دي. دځان سره‌یې وویل آخربه ښه شم، یوه شپه‌درد دي تیربه‌شي، داپیسې باید کنډوې نه کړم ... مګردده ګمان خطاؤ اوهغه ځوك وریسې راغی‌چه دهغه یه راتګ دکتاب دپاڼویه قت‌کی ایښي نوټونه نه‌کنډویدل، هغه راغی اودي‌یې ددردنه بیغمه‌کړ مګر: ځنګه بیغمه؟ داسې بیغمه چه بیاهیڅ غم ونه ګوري .